آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۱۲

# لاروړکي لارویان

## څوارلسمه برخه

هلته هسې، دلته داسې. هلته ټوپکوال د غنیمت په نامه هر څه لوټول، دلته پولیس او مافیا.
د افغانانو په همدې تجارتي ځای یعنې سواستوپول کې، د افغانانو له پاره یو دفتر پرانستل شو. روسی اصطلاح یې ماته نه راځي ،خو«د افغانانو کاري مرکز» نوم ور باندې کېښودل شو، چې اغلباً د کومې روسي اصطلاح ژباړه به وي. خلکو به ویل چې دا مرکز د هوټل د ادارې او مافیا په ګډ تفاهم سره جوړشوی دی.
ظاهراً داسې ښودل کیده چې دا مرکز د افغانانو دی او افغانانو سره مرسته کوي؛ خو داسې ګونګوسي هم وو چې له مافیا، روسي پولیسو او د هوټل له ادارې سره مرسته کوي. د دې مرکز تشکیل داسې و چې مرکز یوه شورا یا جرګه ګۍ درلوده او رهبري یې د یوه رییس له خوا کیده. دوو لوړو بلاکونو چې د دویم او دریم بلاک (دریم کورپوس او څلورم کورپوس) په نامه یادیدل، هر بلاک ته یو مسؤل شخص ټاکل شوی و. بیا د هرې ودانۍ د هر پوړ مسؤلیت یو شخص ته ور له غاړې و. د دې خلکو وظیفه دا وه چې د هوټل له ادارې سره د کرایې په ټولولو کې مرسته وکړي او که تجاران او دکانداران کومه ستونزه ولري، هغه هم کاري مرکز ته ورسوي چې له هغې لارې د هوټل ادارې ته ورسول شي.
د سواستوپول دغه کاري مرکز د دوه زرم میلادي کال تر پایه په بیلابیلو ډولونو، دوه نشراتي ارګانه درلودل:
لومړنی دا یې «کابل» نومیده. د دې اخبار له نامه نه وروسته به لیکلي و:
«نشریه مرکزي افغانها، د امتیاز خاوند: په روسیه کې د افغانانو کاري مرکز»؛
دویم دا یې «اتحاد او عمل» نومیده. د اخبار له نامه نه به وروسته داسې لیکل شوي وو:
«دافغانانو د کاري مرکز نشراتي ارګان، د امتیاز خاوند: د افغانانو کاري مرکز.»
د دواړو اخبارونو له لوستلو وروسته سړی داسې ویلی شي چې د نوم وړي کاري مرکزمسؤلین په لومړي سر کې ډیر په کش کې وو، یعنې ځانو ته یې تمه له حده زیاته وه. د اخبارونو په لنډو ځانګړنو کې چې ما پاس په نښه کړل، لیدل کیږي چې دوی په لومړني اخبار(کابل) کې لیکل:
«نشریه مرکزي افغانها»؛ په داسې حال کې چې افغانها بیچاره ګان، حتی ډیر فرهنګي شخصیتونه چې ماسکو کې یې له ټولو ستونزو سره، سره مطالعه هم کوله، خو له«نشریه مرکزي افغانها» څخه خبر نه وو؛ تر څو د کاري مرکز رهبري دې نیمګړتیا ته پام شو او په«اتحاد او عمل» نومې مشریه کې یې دا خبره تصحح کړه او ولیکل:
«د افغانانو د کاري مرکز نشراتي ارګان»
په دغو اخبارونو کې معمولاً د کاري مرکز ګزارشونه، ځینې ورځني مسایل او د ځینو مناسبتونو یادونې خپریدې. زه یې دلته په نیمګړتیاوو او ښېګڼو بحث نه کوم.
له بده مرغه لکه د مهاجرت د نورو چاپیریالونو په شان، په روسیه کې هم افغان کوچنیان له زده کړو پاتې او شاقه کارونو ته اړ کیدل. دا هم یو نه هیریدونکی او تریخ واقعیت دی چې ځینو کورنیو به له ډیر مجبوریت او ځینو به بیا له ډیرحرص نه په ماشومانو باندې کار کاوه. دغو ستونزو ته په کتنې سره ما ۱۹۹۶ کال په اکتوبرکې یوه مفصله مقاله ولیکله او د «نوید» اخبار د ۱۹۹۶ کال د اکتوبر په ګڼه کې خپره شوه. د دې مقالې په یوه برخه کې، په پردي چاپیریال کې د کوچنیانو د زده کړې مسألې ته داسې اشاره شوې ده:
ما د مهاجرت د نورو ترخو ترڅنګ، د مهاجرت په بیلابیلو چاپیریالونو کې د افغان کوچنیانو راتلونکې زوروي او هر کله په دې فکر کې یم چې د افغان کوچنیانو د سواد زده کړې او مورنۍ ژبې د ساتلو مسأله به څنګه کیږي. دا یو تریخ حقیقت دی چې مهاجرت، له مهاجر څخه ډیر څه اخلي. ژبه ، رواجونه، کور، مړی، ژوندی، هدیره او په پای کې د کلتور ډیرې برخې.
خو موږ باید ځان تسلیم نه کړو. له ټولو میندو او پلرونو سره ښایي چې د نورو ناخوالو سره د مبارزې تر څنګ، په جدي ډول له دې ستونزې سره هم مبارزه وکړي، تر څو له فرهنګ، تاریخ، دیني تعلیماتو او... څخه بیګانه او لرې پاتې نه شو. او که ځای پر ځای لاس تر زنې لاندې کینو، خدای مه کړه سبا زموږ د هر یوه کوچنیان بې سواده او له

خپل فرهنګ او ژبې سره نا آشنا را لوی شي، بیا به نو هغه ته افغان نه شو ویلای، ځکه چې هغه به له خپل تاریخ، ژبې، فرهنګ او عقایدو سره اصلاً نا بلد او بیګانه وي. بیا به دا د شرم پیتې چیرته په شا باندې چلوو.
دلته په روسیه کې د افغان مهاجرو ډیره سلنه با سواده ده، خو خپلو کوچنیانو ته حد اقل د خپلو ژبو الف ـ ب نه ور زده کوي. وبه یې منو چې ښوونځی نه شته او شرایط په جدي ډول خراب دي، خو راځئ چې په ډېر ابتدایي ډول یې له کورني سواد څخه پیل کړو او دا خبره پخوا هم زموږ په هیواد او خلکو کې دود وه چې په کورنیو یا جوماتو کې به د لومړني سواد زده کړه پیل کیده.
په دې ډول به موږ وتوانیږو چې د خپلو ژبو د لوستلو یو څه توان خپلو کوچنیانو ته ورکړو او که نه وي نو زموږ د بچیانو سر نوشت به هم داسې شي چې بیا به له ځینې ښاغلي خپلې کورنۍ ته هم په خپله ژبه یو لیک لیکلی نه شي.
په دې اړوند به دلته په ماسکو کې د خپلو سترګو لیدلی حال تاسو ته ولیکم:
یوه ورځ په یوه ځای کې له دوستانو سره ناست وم، د دوستانو له ډلې څخه یو تن د وطن لوري ته تګونکی و. دی با تجربه سړی و، په دې پوهیده چې کله وطن، کلي او کور ته ورسیږي، د دې زلمیانو چې په ماسکو کې ژوند یا زده کړه کوي، د دوی کورنۍ حتماً د خپلو زامنو او بچیانو احوال ور نه غواړي؛ نو ټولو ته یې و ویل:
«هلکانو!
خپل احوالونه د لیکونو په ترڅ کې ولیکئ، چې زه یې ستاسو کورنیو ته ورسوم، ځکه چې لیک نیم دیدن دی او ستاسو کورنۍ خامخا ستاسو د لیک او لیدلو هیله لري.»
هغوی وویل ښه ده. څو شیبې وروسته یو زلمی قلم او کاغذ په لاس کوټې ته را ننوت او وې ویل:
دا دی کاکا قلم او کاغذ مې راوړه، هر څه چې زه درته وایم، وې لیکه. نوم وړي کاکا مخ ور واړاوه او ښه بد رد یې ور ته وویل، او ما یې د نا امیدۍ نښې نښاني په څیره کې ولیدلې. دې کاکا ورو تر شونډو لاندې دغه بیت زمزمه کاوه:

«سرې لمبې مې خوښې دي، خو مړه خوړلن ته نه راځم
دا ځـــلې کـــه لاړم بـــیا بـــه دې وطـــن تـــه نـــه راځم»

دغه زلمي چې خپلې کورنۍ ته یې په بل چا لیک لیکه، ملامت ځکه نه و چې وړوکی له وطن څخه را لیږل شوی و. مور، پلار او کورنۍ یې نه وه ور سره چې لیک لوست یې ور زده کړي وای. دی په لیلیه، پارک، سړک، پوهنځي او نورو ځایونو کې هره شیبه له پردی ژبې، پردي کلتور او پردیو خلکو سره مخامخ و، ځکه تردې سرحده پورې را رسیدلی و؛ خو موږ او تاسو خو له خپلو بچیانو سره یو ځای یو او سواد هم لرو او د فرهنګ چغې هم وهو، ولې مو بچي تر اوسه پورې په خپلو ژبو لیک لوست نه شي کولای؟
راځئ په دې پوښتنه لږ فکر وکړو. باید خپلو لونو او زامنو ته د خپلو ژبو لیک لوست، وښیو او تل دا خبره په یاد ولرو:

پردی ژبه زده کول که یو هنر دی
خپله ژبه هیرول بې هـنرې ده

درنو لوستونکو!
مهاجرو افغانانو چې هریو با سواده یاست!
راځئ چې د ورځې ډیر نه، یو ساعت په خپلو بچو باندې الف او ب او خپله مورنۍ ژبه ور زده کړو. داسې نه شي چې ستاسې په موجودیت کې هغوی د نورو ژبو ماهران او د خپلو ژبو ګونګیان شي.
زه له ټولو فرهنګیانو او په تیره له هغو فرهنګیانو څخه چې عملاً لیکني او نشرات کوي، هیله کوم چې د افغان مهاجرو کوچنیانو د ښوونې او روزنې له پاره په خپلو خپرونو او لیکنو کې جدي پاملرنه وکړي.
ښاغلي جنید شریف د خپلو ژباړو په لړ کې د یوه ژباړل شوي اثر په مقدمه کې لیکلي وو چې:
«بیټ نیکه په دویمه هجري پیړۍ کې په زاریځ اوعذر د خدای له در بار څخه غوښتلي وو چې:
دا وګړي ډیر کړې خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه! »
او خدای(ج)هم د بیټ نیکه دعا قبوله کړه، دا وګړي یې ډیر کړل، خو اوس داسې څوک نه شته چې څه د پاسه یو زر و دوه سوه کاله وروسته یو وار و وایي چې:
دا وګړي ماړه کړې خدایه!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

لویه خدایه، لویه خدایه!
دا وګړي با سواده کړې خدایه!
لویه خدایه،لویه خدایه!
او په دې ډول ګورو چې په ماسکو غونډې پردي چاپیریال کې هره ورځ مهاجرین، څه تر فرهنګي تیرې لاندې دي او څه د اسنادو د نشتوالي او بې سرنوشتی په وجه پر دوی باندې ناروا کیږي.
په ماسکو کې یو ډول ځانګړي پولیس دي چې آمون ورته وایي، ښایي د کوم اوږده نامه لنډیز وي. دا پولیس د هر څه واک او صلاحیت لري. د پوښتلو، نیولو، وهلو، ټکولو، لوټلو او حتی د وژلو هم. دا پولیس ځانګړو ځایونو او پیښو ته لیږل کیږي او دوی داسې تعلیم لیدلی چې هر ډول سمو او نا سمو باندې ډیر ژر پوهیږي.
دې پولیسو به هم کله، کله د افغانانو پر تجارتي مرکزي یرغل کاوه، ګرد چاپیره به یې محاصره کړ او وروسته له یو څه پلټنو به له کومې خنډې د چا غږ اوچت شو چې بیا یې د هر څه په لوټلو لاس پورې کړی دی. دې پولیسو به د خلکو د ارعاب او ډارولو له پاره یو څه کسان د بې اسنادې په تور له ځان سره بیول. په ماسکو کې افغان خپرونو دغه پیښې نا لیدلی نه ګڼلې، بلکې هر کله به یې په خپلو خپرونو کې د افغانانو د چور، تالان او زورولو څرنګوالی منعکساوه. د آواز ورځپاڼې د۱۳۷۶ کال د سنبلې د لسمې ورځې (۱۹۹۷ د سپتمبرلومړی) په ګڼه کې د همدې چور، تالان او افغان زورونې یو خبر د بي بي سي په حواله په دې شرحه خپور کړ:
«د روسیې وسله والو پولیسو په ماسکو کې د افغانانو پر سوداګریز مرکز برید کړی. د ځینو کسانو د زورونې تر څنګ یې د هغوی یو شمیر مالونه او پیسې هم مصادره کړې دي. چارواکي دا اقدام د غیرقانوني سوداګریو بندیدل بولي؛ خو افغانان د دې ادعا په رد کې وایي چې پولیسو نه یوازې سوداګر، بلکې د افغاني ورځپاڼو چلوونکي هم ډارولي دي...»
یوه ورځ یې د حملې په ترځ کې هوټل محاصره کړ، په هیڅ چا یې صرفه نه کوله، حتی په کوچنیانو هم. یو وړوکی افغان ماشوم چې اخبار یې خرڅاوه، همدې پولیسو پر واورو باندې پرمخې څملولی و، چې خدای له کومې خوا لطیف لالا ور باندې ور پیښ کړی و. څنګه چې د لالا اسناد قانوني وو او د دوی په ژبه او کلتورهم ښه پوهیده، نو دا ماشوم یې ور نه خلاص کړی و.
د یو شي په پیژندلو کې چې دا پولیس پاتې راغلي وو، هغه جعلي بانکنوټونه وو، چې په پاکستان کې جوړیدل. څنګه چې مخکې هم یادونه وشوه زما لاس تش و او له خلکو به مې مال په امانت اخیسته. د همدې امانت اخستلو په سلسله کې یو وار د کابل پوهنتون استاد خواجه آقا بختیارصمدي ته د مال اخستلو له پاره ورغلم. ده ډیر امکانات درلودل. یو خو دادبیاتو پوهنځي د روسي ځانګې استاد و او په روسي ژبه ښه پوهیده، دویم یو څه شته یې په لاس کې وو، له لاس لرلو امکاناتو نه یې په استفادې سره ځان ته داسې اسناد برابر کړي وو چې بهر ته یې سفر هم ور باندې کولای شو. ده به چین ته سفر کاوه او تجارتي مالونه به یې راوړل. ما به کله، کله لږ او ډیر مال په امانت ور نه اخیست او بیا به مې لس یا شل ورځې وروسته ټولې پیسې په یوه ځای ورکولې.
یوه ورځ یې په تیلیفون کې را ته و ویل:
«کله دې چې پیسې راوړې، هڅه وکړه چې ټول د روبل پنځه زره ګوني ټول کړې او را یې وړې!»
وروسته مې وپوښته چې په دې کې څه راز پټ دی، ده خبره زدویله او څه یې نه ویل، چې ډیر ټینګارمې وکړ حال یې داسې راته و وایه:
«یو شمیر خلک دي چې په پراخه پیمانه د روسي بانکنوټونو پنځه زره ګوني ټولوي، څنګه چې پنځه زره ګوني او پنځوس زره ګوني په سور، اوږدوالي او د کاغذ په نوعیت کې سره یو شی دي، نو پاکستانیان یې د رنګ او لیکنو په بدلولو سره له پنځه زره ګون نه پنځوس زره ګون جوړوي او بیرته یې د روسیې بازار ته ور داخلوي.»
په روسیه کې افغان مهاجرین که څه هم د افغانستان له شرایطو، د ټوپکیانو له ټوپک، بل کړای شوي اور او نورو کړاونو نه خلاص وو؛ خو بیا هم پردی چاپیریال، پردی وطن، پردی ژبه، پردی کلتور او هر څه ورته پردي وو؛ ځکه هر کله په عذاب وو.
د افغانانو پر دغه حا لت د فاروق عطایي یو طنز ډیر ښه صدق کوي. دا طنز د ماسکو په افغاني مطبوعاتو کې د لومړي ځل له پاره فاروق فردا په «نوید» کې خپورکړ. دا طنز «داکومنت» نومیږي. دلته به یې پښتو ژباړه درنو لوستونکو ته وړاندې کړم:

«کاکا شیرو هم اوریدلي وو چې علي آباد ښاردی. لیدل یې چې خلک د روسیې په لوري روان دي. دی هم څو ځلې په پاکستان کې د روسیې سفارت ته ورغی تر څو یې ویزه تر لاسه کړه او له خپلې میرمن پري ګل سره مسکو ته راغی.
هر څومره چې دوستانو منع کړ او ورته وې ویل چې په روسیه کې داکومنت نه درلودل لویه ستونزه ده، خو کاکا شیرو د ښاریانو په منځ کې ځان د عقل ګوډی ګاڼه، ځان یې نه پوه کاوه چې داکومنت یعنې څه او ځان سره یې دا انګیرل چې داکومنت هره بلا چې وي، سرې کولای شي هغه په پیسو واخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا چي کاکا شيرو په ماسکو کې د ګمرک تشريفاتي مراسم پر ځای کړل، لا د هوايي ډګر په سيمه کې و چې له سلام او احترام نه وروسته پوليس داکومنت ور نه وغوښتل. کاکا شيرمحمد فکر وکړ چې دا پنډ سړی د احترام په وړاندې کولو سره د ده هر کلی کوي. خپل بکسونه يې په مخکه کېښودل په غيږو يې د ستړي مه شي په ترڅ کې ځو ځلي ښکل کړ. پوليس چې ځو ځلي داکومنت ياد کړل، کاکا شيرمحمد ور ته و ويل:
جان کاکا! کوردي ودان چې په هوايي ډګر کې ما ته د هرکلي له پاره راغلی يې. زه ژمنه کوم چې له هيڅ چانه به داکومنت وانخلم، که يې اخلم يوازې له تا نه به يې اخلم. زموږ يو ځو روپۍ همدا اوس د پري ګل تر ملا تړلي دي، دا به ښه نه وي چې تور سري خپله لمن دلته جګه کړي، خدای مه کړه د کوم نا محرم سترګي پرې و نه لګيږي. ته سبا همدلته اوسه، زه راځم او له تا نه داکومنت اخلم... مرداره قول اس... يوازې يې له تا اخلم...
پوليس پوه شو چې له دې نه څه نه تر لاسه کيږي، خپله مخه يې ونيوله. ځو شيبې وروسته کاکا شير محمد خپل وراره وليد چې له دروازې نه د باندې، ده ته سترګې په لارې دی. له ستړي مه شي نه وروسته په ټکسي کې کيناستل، په لاره کې يې غوږې کولې چې د داکومنت خبره ياده شوه، کاکا شير محمد غاړې تازه کړي او لکه عقل کل يې و ويل:
ګوره زويه!
په اوغانستان او پاکستان کې هم خلکو ويل چې داکومنت د مهاجرينو اصلي ستونزه ده. همدا چې کاکا دې را ورسيد، په هوايي ډګر کې يې داکومنت والا پيدا کړ، افسر مه وايه، د شرافت ټوټه وه، مور دې کيني همداسې پوليس دې وزيږوي...
سبا ته چې کوم داکومنت غواړم، له هغه نه يې اخلم... سودا يې مه کوه.
د کاکا شيرمحمد وراره موسکی شو نور يې څه ونه ويل. وروسته له ځو شيبو د خبرو په ترڅ کې بيا د داکومنت خبره ياده شوه. دا ځل نورد کاکا حوصله تنګه شوه، وې ويل:
جان کاکا!
که رښتيا را باندې وايې زه تر اوسه د داکومنت په مانا هم نه پوهيږم. ته و وايه دا څه بلا شی دی... زما سر خو يې را ډډ کړ...
کاکا جانه!
داکومنت مانا سند، يعني پاسپورت او ويزه...
- زويکه!
دا خوکومه ستونزه نه ده، د هر هيواد پوليس دنده لري چې بهرنيانو ته اسناد برابر کړي او که ځوک غير قانوني استوګنه ولري، هغه دې د خپل هيواد سفارت ته وسپاري او خپل هيواد ته دې ولېږي. زموږ هيواد کې چې جګړه ده، موږ ته دې مؤقته اقامه راکړي، له خيره سره چې سوله وشوه، خپل هيواد ته ستنيږو، زموږ يې په پردي وطن څه...
دوه ورځې وروسته چې د کاکا دمه جوړه شوه، ښار ته د تګ هوس يې په سر کې پيدا شو. خپل وراره سره رينک ( بازار) ته ولاړ. وراره يې چيرته تشناب ته تللی و، چې پوليس راغلل او کاکا شيرمحمد يې د داکومنت د نشتوالي په وجه د پوليسوماموريت ته بوته. وراره د تره په لټه پسې ولاړ، ځو ساعته وروسته چې راغلل، هر څه يې لوټ شوي وو.
کاکا شيرمحمد پريکړه وکړه چې نور به له کوره نه وزي. يو دوه ورځې په کورکې و، چې بله ورځ نا ځاپه د کور د دروازې زنګ وشرنګيده. د دروازې په دوربين کې يې وليدل چې د باندې پوليس ولاړ دي. ور يې پرانست، پوليس بيا هم داکومنت غوښتل. دوی چې ځو روپۍ درلودې، هغه يې په جرمانه کې ور کړې.
ځو شيبې وروسته بل پوليس راغی او بيا ور پسې بل پوليس. کاکا چې ډير تنګ شو، وطن ته د تګ خيال ور ته پيدا شو. هرې در ګاه ته يې چې سر ښکاره کړ، چا د وتلو ويزه ور نه کړه. ور ته ويل کيدل چې په ويزه دې ډير وخت تير دی، ځکه د وتلو ويزه نه در کول کيږي. که يې ويل چې اقامه را کړئ، هم يې نه ورکوله. کاکا د ژباړن په مرسته هر چا ته چې خپله ستونزه ويله، هماغه يو ځواب به يې اوريده:
دا ستا خپله ستونزه ده په موږ پورې اړه نه لري.
له کاکا شير محمد نه بله لار ورکه شوه، هوډ يې وکړ چې نور به چا ته دروازه نه خلاصوي. يو دوه ورځې دې کار مرسته ور سره وکړه، په دريم وار يې ونيو او د پوليسو ماموريت ته يې بوته او ښه په مره خيټه يې وواهه. دا ځل يې له مؤظفينو سره د نه همکارې په وجه يوه اونۍ په بند کې تيره کړه.
کاکا له ځان سره وپتيله چې په کور کې پټ شي. کله چې بيا پوليس راغلل، دی په الماری کې پټ شو. پوليس ټول کور ولټاوه، په پای کې يې کاکا په الماری کې پيدا کړ. د الماری د دروازې په خلاصولو سره پوليس له وار خطايۍ نه چغې کړې، بيا يې د پوليسو ماموريت ته بوته، دا وار ته يې د مؤظفينو د ډارولو په تور يوه اونۍ د اوسپنيزو ميلو تر شا تيره کړه. د ژوند د شرايطو د بد والي او سړې هوا په وجه، کاکا ناروغه شو او په يوه سره شپه کې يې مرګ ته ښه راغلاست و ويل.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ټولو ظاهراً انګیرله چي د داکومنت مسآ له حل شوه، په داسي حال کي چي د داکومنت قصه اوس نوې پیل شوه. د کاکا میرمن او وراره د ګور کیندونکي په لټه کي شول، خو هغه ورته و ویل:
تر څو چي دا مړی داکومنت و نه لري، موږ يې نه شو ښخولای. کاکا باید له حقوقي او طبي پلوه مړ وي. د کاکا میرمن او وراره په ډیرو جنجالونو ډاکتر دې ته اړ کړ چي مړی وګوري. ډاکتر داکومنت غوښتل، څنګه چي کاکا داکومنت نه درلودل، مرګ يې د تصدیق وړ نه و. همدا ډول بل ډاکتر او...
آخر د کاکا د ښځي حوصله پای ته ورسیده او یوه ډاکتر ته يې و ویل:
ـ دا زما میره مړدی که ژوندی؟
ډاکترځواب ورکړ:
هغه په واقعیت کي مړ دی، خو د داکومنت له مخي نه شم ویلای چي هغه مړ دی، ځکه چي ما سره په روغتون کي نه دی مړ؛ خو له ډیر ټینګار نه وروسته، ډاکترحاضر شو چي د هغه مرګ تصدیق کړي.
اوس حقوقي هیآت نه حاضریږي چي و وايي چي کاکا شیر مړ دی. هغوی استدلال کاوه چي کاکا شیر پرته له داکومنت نه مړ دی او د کاکا شیر دا عمل د سزا وړ دی.
په دې منځ کي د کاکا شیر میرمني چي هر ځلي وخت پیدا کاوه د خپل میره مخ يې لوځاوه او لیدل يې چي میره يې له خندا ډکه خوله داسي پروت دی لکه چي په داکومنت او داکومنت بازۍ پوري خاندي.
خلاصه وروسته له یوې اونی کاکا بریالی شو چي مړ ثابت او خاورو ته وسپارل شي.
څو شپي مخکي پري ګل خپل میره په خوب ولید.هغه يې وپوښته چي هلته څه حال لرې؟
کاکا په ډیرې خواشینی و ویل:
پري ګل جاني ډیر بد حال لرم. ټول مړي یو بل سره مرکه کوي او خپلو منځو کي غږیږي، ما ته هیڅ ارزښت نه راکوي، ځکه چي زه بې داکومنته مړی یم.»

که په مهاجرت کي سړی کور دننه له شته ستونزو، مرګ، جګړي او د ټوپکیانو له سوځنده اور څخه د خلاصون امتیاز ترلاسه کوي؛ نو ډیر څه له لاسه ورکوي هم. د یادو ستونزو تر څنګه، د نوي نسل د بې سواده پاتي کیدو، له خپل کلتور نه لرې پاتي کیدل او له خپل کلتور او مورنی ژبي سره د پردیتوب د غمیزي تر څنګه، په نوي ټولنه کي د جذب او د نوې ټولني له هر اړخیزو شرایطو سره ځان برابرول، دا ټولي هغه ستونزې دي چي هر مهاجرته لکه د غره په شان په مخ کي پرتي دي.
دا هم د یادولو وړ ده چي کله دغه نوی نسل بیرته وطن ته ستنیږي، نو له ځان سره به پردی کلتور وطن ته لیږدوي.
د افغان مهاجرینو زیاته سلنه په ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان کي میشت دي. د دې مهاجرینو اولادونه په سل ډوله نادنریو یا د فیس په ورکولو ښوونځي ته د تګ چانس تر لاسه کوي، خو هغه خلک د افغانستان د کلتور، تاریخ او ملي ګټو پر ځای، خپل دا ور زده کوي. ځکه دا ماشومان په خپل کلتور، تاریخ او ملي ګټو نه پوهیږي.
په دې ډول ګورو چي افغانستان تر یوه ستر کلتوري یرغل لاندې هم راغلی دی. په شرقي او غربي اروپا کي خبره له دې نه هم خرابه ده. ډیری ماشومان په خپله ژبه نه پوهیږي. لیکل خو څه کوي، خبرې لا نه شي وربانديې کولای.
په تیره بیا په ماسکو کي، مزدوري کوي، پیرکي او اوبه خرڅوي او له پلار سره په دکانداری کي اوږه ورکوي. له کوره د باندې مجبوراً چي بومي یا محلي ژبه زده کړي او تکلم پرې وکړي، کور دننه؟؟؟
ډیره بختوره کورنۍ خو لا هغه ده چي په کور کي خپلو منځو کي په خپله مورنی ژبه خبرې وکړي. په ځینو اروپایي هیوادونو کي د مورنی ژبې د زده کړې، ساتني او پالني له پاره پروګرامونه شته، بودجه ور ته بیله شوې ده؛ خو خپله میندې او پلرونه بې میني دي، ځان نه زهیروي، کرار ناست وي، فکر کوي چي جنت فردوس ته را رسیدلي دي، نور يې څه کوي.
د همدې ماشومانو حالت چي په اول سرکي ما په ماسکو کي ولید، ډیری هڅي مي وکړې چي حد اقل دا مهاجر افغانان دې مهم کار ته پام وکړي، خو مه دې سه، چا ته وايي، څوک به يې واوري.
که څه هم د ملګرو ملتونو اداري په ماسکو کي د افغانانو له پاره یو ښوونځی جوړکړی و، خو میندو او پلرونو دې کار سره چندای مینه نه ښودله. نور زما له لاسه څه نه کیده، یوازې مي د یو څو مقالو په لیکلو خپل ډک زړه تش کړ. د دغو مقالو سلسلي ته مي «پردی چاپیریال او د کوچنیانو دزده کړې مسأله» عنوان ور کړی و، چي هماغه وخت مي په ماسکو کي خپرې کړې.
د نړی، سیمي او په ځانګړي ډول زموږ د هیواد د حالاتو بدلون او خرابوالی، زموږ د وطن په کورنیو او بهرنیو چارو کي د ګاونډیانو نیغ په نیغه لاس وهنه او زموږ د وطن په اصطلاح سیاسي رهبرانو هوښیارتیا؟ د دې سبب شول چي افغانان په ټوله دنیا کي لکه کچالو تیت شي. د دنیا هر ګوټ ته چي لاړ شي کچالو شته، دغه راز د دنیا هرې خوا ته چي لاړ شي افغان پیدا کولای شي. د اوریدو له مخي حتی سوځنده او وږې افریقا کي هم افغانان مهاجر شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

داسي وخت هم راغی چې په روسيه کې پولي بحران رامنځ شو. ډيرو خلکو تاوانونه وکړل او ځينو لا خپله وړه سرمايه ګۍ په کې له لاسه ورکړه.
بل کار چې افغانانو د خپل ژوند او تجارت د پر مخ بيولو او ښه کولو له پاره کړی دی، هغه دا دی چې ځينو افغانانو د پيسو په بدل کې له روسي ښځو سره ظاهري واده کړی دی او په دې وسيله يې روسي پاسپورتونه ترلاسه کړی دي. د دې ودونو ډيره سلنه د دې له پاره نه وه چې ګنې دا ډله افغانان له روسي ټيپ ژوند يا روسانو سره مينه لري.
دوی يوازې د خپل ژوند د پر مخ بيولو، د پوليسو له ګړاوونو څخه د خلاصون او تجارتي کارونو او سفرونو په خاطر دې کار ته اړوتلي دي.
له بده مرغه د افغانانو په تجارتي مرکز(سواستوپول) کې يو بل مرض هم شايع و، هغه دا چې بد کاره ښځې به کوټه په کوټه ګرځيدې او تن فروشي به يې کوله او بيا هم له بده مرغه ځينې داسې افغانان په دې مرض اخته کړای شوي وو چې له دې بد کاره ښځو سره يې نږدې روابط ساتل. ګمان داسي دی چې دا ډله ښځې يا خو به عمداً د کومې مرجع له خوا ر اليږل کيدې او يا به يې د خپلو اقتصادي ستونزو د حل له پاره دې کارته غاړه ايښي وه.

«سترکارونه تل له ستروخطرونوسره ترسره شوي دي.»
(هيرودت)

د څوارلسمي برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ